پوهاند دوکتور م.ا. زيار

اکسفورډ، جولای۲۰۰۷

# ژبنی ريږي نوې ژبپوهني

# او ژبپوهاند ته پرېږدئ!

### د خپلو پوښتنو او وړانديزونو ځوابونه په نوي ((پښتو ليکلاربنود)) کې ولولئ!

د يوې پښتو- کره پښتو يا يوې يوازېنۍ- کره پښتو ليکلارې غورځنګ د تېرو پينځه دېرشو کلونو په اوږدو کې راسره نه يوازې د پښتو ټولنې چارواکو او دوديزو پوهانو، بلکې د وسمهالي پوهې او فرهنګ ډېرو داوه ګيرو، د ځانګيزو- پوهنيزو غبرګونونو پرځای راسره کوږتې او سکوتې تربګني را اخېستې او وايي: ((پښتوخو يوازې د زيار ژبه نه ده چې ليکلار يا ليکدود يې ورټاکي...))!

او مايي هم په غبرګون کې ويلي او ليکلي چې هو، پښتو په ټولو پښتنو او هر پوړ و پاړکي، ښي او کيڼ اړه لري او تش يې له ګړدودي پلوه د لوړ او ځوړ يوځه توپير کېږي، خو ژبپوهنه يې يوازې د ژبپوهانو او بيا د نوې ژبپوهنې د ځانګوالو په واک او ټيکه کې راځي. همدوی دا واک او وړتيا لري چې پښنويه(ګرامر) يې وليکي، وييپوهنه، غږپوهنه(فونولوجي) او اَرپوهنه(اېټيمولوجي)يې وکاږي، تاريخ وجغرافيايي وڅېړي... او تر ګړدودودي څېړني او جوتونې وروسته يې له بې شمېرو ګړدودو يوه يوازېنۍ او کره ليکلار و ليکدود ور وټاکي.

ننني ژبپوهنه پر دوو تيوريکو او ساينتيفيکو ستنو(فونولوجی او اېټمولوجی) ولاړه ده او له دې کبله د هرې سکالو او ربړې دهواروني وروستی پايله او پرېکړه په اړوند ساينټېست ژبپوهاند اړه لري، نه په هر اماتور، دوديز يا تش په نامه ژبپوه او ژبښوونکي، ليکوال او څېړنوال . همدا لامَل وو چې د پېنځويشتکلن لوستليکي (تکسبوک) د نوي چاپ کري نچوړ((ليکلاربنود)) په سر سر کې راته دا لاندې ننګونه(چلنج) کښل اړين وبرېښېدل :

((یوازې اکادېمیک پښتو ژبپوهان له لوړترین زده کړیز لاسوند او اړوند څېړنیز رېکارډ سره دا رښته درلودای شي چې په لا زیاتو پیاوړو ژبپوهنیزو اَرونو، لاسوندونو او پرو سېجرونو دا لارښود را و ننګوي... )).

له بده مرغه، د ژبپوهنې هغه یو ګوتشمېر ورک پک پښتانه ځانګوال چې څلورو یې په پخواني شوروي او یوه یې په امریکا کې یو تعمیدي غوندې لمبا کړې وه،هم په مړونې یا ژوندونې ترې تم شول، بې له دې چې دخپلې ژبې د اړتیاوو او په ځانګړې توګه د یوې- یوازېنۍ- کره لیکلارې پر اړینتیايې سر خلاص شوی یا ګرځولی وي. تردې چې هماغه یوڅه پاموړ او امېد وړ اروابناد ((ترېي)) خپل تېزس او نیم ژبښود یا لیکنه هم په خپل لنډ تنګ کلیوال ګړدود کښلي دي . نو چار ناچار زه ځان د حافظ شیرازي د هغه شعر د جاج جوګه ګنم چې زما ماستر متنپوه شاګرد معصوم جان هوتک یې هسې بېځایه ځان جوګه کړی دی :

آسمان بار امانت نتوانست کشید

قرعۀ فال به نام منِ دیوانه زدند

د همدې داوې او تیکي پر بنسټ زه دا دځان رښته بولم چې د پښتو ژبپوهنې په اړه د هرچا وړاندیزنه ور ځواب کړم او لاسوهنې یې بېځایه او بې سروبوله وبولم!

تازه پر تازه یوه ځوان او هڅاند لیکوال د ساپي او نورو ګڼو پښتو انترنېټ پاڼو ته ور وڅکولم چې ان حکمتیارصاحب هم د پښتو د لیکدودي یووالي غږ راپورته کړی چې موخه یې له اَره ګړدودي په بله وینا لیکنۍ یووالہ ده. نو که وخت و زغم ولري، دخپلو ګردو رابرسېره کړو ربړو اووړاندیزونو پوره پوره ځوابونه په نوي خپورشوي لیکلار ښودکې موندلای او لوستلای شي . نور لیکوال خو تر وړاندیزونو خپلو پریکړو ته ډېر ارزښت ورکوي او ځانته د بېځایه لاسوهنې حق!

همدغلته مې د خپل استاد شوي شاګرد((یون)) پر لیکنه هم سترګې و لګېدې چې د(ی)ګانو ډولونه یې په لنډ ډول ښوولي ، خو دخپل لنډ نوم(یون yun ) هغه یې هېره کړې چې نیمواکه یا نیمه کنسوننتي ده او ګرافیم یا توری یې د لنډې(ي) له هغه سره یوراز دی. د ويي او څېي په پیل (یا،یه،یې، یو، یون، یوم...) او منځ(بیا، ویاړ،ویار، زیار، بېدیا، سوبتیا،ستړیا، پیاز، نیاز، بیاتي...) کې، دویمه ډله ببلګې زیاتره د پیل- او منځ بېواکوړي یا مبډل کلسټر له رغاونې سره راځي، په پای کې، هرګوره یوازې د غبرګغږ(سړی ، ویی؛ ځای، پای؛ نړی،مۍ؛ دوی،زوی؛ خوی، بوی ...) د دویم رغنده توک په بڼه را څرګندېږي.

ځيني لوستي او ږده کړه وال، لکه د بي بي سي يونيم ورياند تر پارسي اغېز لاندې د(يy) وړي ماتوي، د ساري په ډول پکتيا(پکتييا) ويوي . حال داچې نور ګرد پښتانه ، تر نوميالو ويناوالو(خوشال، رحمان، حميد...) په سرچپه توګه عربي، پارسي، انګرېزي... پور وييونه هم د پښتو وينګ اړوندوي او په کلسترولو يې لږ تر لږه يوه يوه څپه(هجأ) ور لنډوي .

او په دې لړکې يې لنډه(معروفه ي) له ورپسې نيمواکې هغې سره کلستروي :

درې څپيز هوشيار دو ه څپيز هوښياريا وېښيار کوي، همداراز ملېت، احتياط، ماهيان، بيابان، تکيه، قيامت، خيانت، بختيار، اختيار (... چې صاحب د کل اختيار دی رب زما- رحمان با با)، دوه څپيز نيت، خيال، خير... يو څپيزوي،او څلور څپيز نيازمندی، انسانيت، فعاليت، قانونيت ... درې څپيزوي او داسې نور. هرګوره، په قرآن او حديث کې يې په آره بڼه ويول اړين دي.

په نوې ليکلاربسود کې مو دسترخوشال، يولړ ګړدودو او تاريخي لاسوندو له مخې (ژير، ويره، بيرته...) تر خپلواکې يا واوېلي(اوږدې- ې e ) په نيمواکې يا سيمي واوېلي(ی y ) کښل کړه و ګڼل .

ګړندي صاحب هم که وغواړي د بيا بيا رامخته پوښتنو او ناسمو پرېکړو ځوابونه په ليکلاربسود کې له پوره رڼاوي او سپيناوي سره موندلای شي، لکه مانا(اوستا مېنا mena انګرېزي مين mean الماني ماينن meinen ...) له عربي معنا سره ګډول.. د معنی يامعناريښه (عين) ده او د مانا ريښه من، مېن ،مېنت ... . داسې نور ډېر وييونه، لکه مهال، توپان،توتي، تورخم، ايت ... هم همداسې درواخله چې يا ناعربي دي او يا د هسې برابری له مخې له عربي سره همرنګ، په بله وينا ټکر خور وييونه(accidental words) بلل کېږي. (پردې سربېره- برسېره پردې) يې سره بيا سم توپيرکړي دي چې د ليکلاربسود د قاموسي برخې په ۱۹۸مخ کې يې هم لوستلای شي

دا هم د يادولو ده چې نوې ژبپوهنه له زړې کرغېړنې نومونپوهنې يا ترمينالوجۍ سره دومره اړخ لګولای نه شي،لکه: حرف و ادات، مجهول و معلوم، مفغن و معرب، فاعل و مفعول او نور چې يو لړ ورانپوهاوي او ګډونونه رامنځته کوي.

23032008

www.ayenda.org